شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

**د دوو مسلمانانو ترمنځ اړیکي:**

**د حدیث ژباړه:** د دوو مسلمانانو ترمنځ اړیکي د یوه مضبوط عمارت په شان دي، چي یوه حصه بله حصه مضبوطوي. بیا نبي علیه السلام د دواړو لاسونو ګوتي په یوه او بل کي سره ورکړې او وئې ویل، چي یو مسلمان له بل مسلمان سره باید داسي پیوسته او تړلی وي.

روا‌ه البخاري باب تعاون المؤمنین بعضهم بعضا (ص:۸۹۰ ج:۲)، مسلم تراهم المؤمنین وتعاطفهم وتعاضهم (ص: ۳۲۱ ج:۲).

**روابط بین دو مسلمان:**

**ترجمه حدیث:** روابط بین دو مسلمان مثل یک عمارت است، که یک حصه آن حصه دیگر را محکم می کند. پس نبی علیه السلام انگشت دو دست خودرا با هم محکم وصل کرد و گفت، که یک مسلمان با مسلمان دیگر باید چنین پیوسته و بسته باشد.

روا‌ه البخاري باب تعاون المؤمنین بعضهم بعضا (ص:۸۹۰ ج:۲)، مسلم تراهم المؤمنین وتعاطفهم وتعاضهم (ص: ۳۲۱ ج:۲).

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

شنبه | د شوال المکرم ۱۸ - ۱۴۴۵ال س/ د غویی ۸ - ۱۴۰۳ال ل/ د اپریل ۲۷ - ۲۰۲٤ز/دریم کال / ۹٦ ګڼه/ ٤ مخیزه



## سر مقاله

### تأثیرات پروژه‌های توسعه یی بر اقتصاد کشور

در عصر حاضر پروژه‌های توسعه یی به عنوان یکی از ابزارهای اصلی جهت تحقق رشد و توسعه اقتصادی کشورها مطرح می‌شود. این پروژه‌ها می‌توانند شامل ساخت و ساز زیرساخت‌های حمل و نقل، آب و برق، کانالیزاسیون، ارتباطات، صنعت، تجارت وغیره باشند. تأثیرات این پروژه‌ها بر اقتصاد کشورها در بسیاری از جوانب مورد غور و بررسی قرار می‌گیرد. یکی از تأثیرات مهم پروژه‌های توسعه یی بر اقتصاد کشور، ایجاد اشتغال زایی و کاهش بیکاری است. با اجرای این پروژه‌ها، فرصت‌های شغلی جدید ایجاد می‌شود و افراد بیکار می‌توانند به طور فعال در این پروژه‌ها مشغول شوند. این امر منجر به افزایش درآمد افراد، کاهش فقر و افزایش قدرت خرید جامعه می‌شود که در نتیجه رونق اقتصادی را افزایش می‌دهد. پروژه‌های توسعه یی به صورت مستقیم و غیرمستقیم بر رشد اقتصادی تأثیر می‌گذارند. این پروژه‌ها باعث افزایش تولیدات، ارتقاء صنایع محلی، افزایش صادرات و جذب سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی می‌شوند. همچنین، با ایجاد زیرساخت‌های معیاری و استندرد در حوزه های حمل و نقل، انرژی، ارتباطات و غیره، زمینه‌ساز رشد و توسعه صنایع و خدمات مختلف می‌شود که بهبود کیفیت زندگی جامعه را به همراه دارد. پروژه‌های توسعه یی با بهبود زیرساخت‌های کشور، زمینه‌ساز جذب سرمایه‌گذاری‌های خارجی می‌شوند. سرمایه‌گذاران خارجی به دنبال ایجاد اشتغال، دسترسی به بازارهای جدید، کاهش هزینه‌ها و افزایش سودآوری هستند. پروژه‌های توسعه یی با بهبود زیرساخت‌ها و ارائه تسهیلات به سرمایه‌گذاران، اعتماد آنان را جلب می‌کند و باعث جذب سرمایه‌گذاری‌های بیشتر به کشور می‌شود. پروژه‌های توسعه یی می‌توانند منابع طبیعی کشور را بهره‌برداری کنند و صنایع مرتبط با آنها را توسعه دهند. این امر به افزایش درآمد ملی کمک می‌کند. همچنین، با توسعه بخش‌های مختلف اقتصادی و تنوع در تولید، وابستگی به یک بخش خاص کاهش می‌یابد و ریسک اقتصادی تقلیل پیدا میکند. همچنان پروژه‌های توسعه باعث بهبود ارتباطات و همکاری‌های بین‌المللی میشود. این پروژه‌ها با ایجاد زیرساخت‌های مناسب در حوزه ارتباطات و حمل و نقل، فرصت‌های همکاری با سایر کشورها را فراهم می‌کنندو به توسعه صادرات و افزایش نقش کشور در بازارهای جهانی رول عمده را ایفا نماید. پروژه‌های توسعه یی با تأثیرات بسیار متعددی بر اقتصاد کشورها همراه هستند. این پروژه‌ها نه تنها بهبود زیرساخت‌ها و رشد اقتصادی را به همراه دارند، بلکه اشتغال، جذب سرمایه‌گذاری‌های خارجی، افزایش درآمد ملی و ارتباطات بین‌المللی را نیز تقویت می بخشد. بنابرین توجه به پروژه‌های توسعه یی و سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌ها به عنوان یک استراتیژی مؤثر جهت تحقق رشد و توسعه اقتصادی کشورها بسیار حایز اهمیت است.

**با احترام**

**اداره**

# د مالیې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ مالي سیستمونه بیرته نښلول کېږي

د مالیې وزارت د پالیسۍ معین انجنیر سلطان محمد زبیر په مشرۍ او ددغه وزارت او د افغانستان بانک د سیستمونو د مسؤلینو ترمنځ د دواړو ادارو د مالي سیستمونو د بیرته نښلولو په موخه مشورتي ناسته ترسره سوه. په دغه ګډه ناسته کي د مالیې وزارت د افمس، سیګټاس او اسیکوډا سیستمونو په ارزښت، د بین البانکي تادیاتو سیستم او د افغانستان بانک د (APS) سیستم د نښلولو په تړاو خبري او د نظرنو تبادله وسوه او پرېکړه وسوه؛ چي د یو لړ تخنیکي مسایلو له حلولو وروسته به یاد سیستمونه سره نښلول کېږي، چي له کبله به ئې د دواړو ادارو ترمنځ په ذکر سوو برخو کي ستونزي هواري سي. د یادوني وړ ده، چي د دواړو ادارو ترمنځ د ذکر سوو سیستمونو نښلول د ملي عوایدو په راټولولو، مالیه ورکونکو ته د نورو اسانتیاوو برابرولو او د ټولو اړینو لګښتونو او معاشونو د ښه او پر وخت اجرا کولو کي مهم رول لري.

## د هیواد د ګمرکي چارو د لا ښه والي په موخه مشورتي ناسته وسوه

د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د ګمرکونو له مسؤلینو سره په نوي مالي کال کي د ګمرکي چارو د لا ښه والي په موخه مشورتي ناسته د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کي وسوه. په دې ناسته کي په ګمرکونو کي سوداګرو ته د لازمو اسانتیاوو په رامنځته کېدو، په هیواد کي د سوداګرۍ پر لا ودي، پر خپل وخت سره د سوداګرو ستونزو ته د رسېدو، د ګمرکي بهادارو سندونو پر کنټرول، د کارکوونکو د وړتیا پر لوړولو، د قاچاقي توکو پر مخنیوي، د ګمرکي طی مراحلو پر ساده کولو، په ګمرکونو کي د پراختیایي پروژو پر پلي کېدو او د یادو پروژو له روانو چارو څخه پر څارني، د اداري چارو پر لا ښه والي، د ګمرکونو په ګودامونو کي له ضبطي توکو څخه پر څارني او یو شمېرو نورو اړوندو موضوعاتو بحث، سلا مشورې او په اړه ئې لازمي پرېکړې وسوې.




## د ګمرکونو او عوایدو لویو ریاستونو تر منځ د همغږۍ لومړنۍ ناسته وسوه

د مالیې وزارت د رهبرۍ له هدایت سره سم د ګمرکونو او عوایدو لویو ریاستونو تر منځ د همغږۍ لومړنۍ ناسته د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید او د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني په ګډه مشرۍ، چي د دواړو ریاستونو مرستیالانو او یو شمېر رئیسانو هم ګډون پکښي کړی وو، د عوایدو او ګمرکونو معینیت د غونډو په تالار کي وسوه. په پیل کي د ګمرکونو لوی رئیس ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او د دواړو ریاستونو تر منځ ئې په اړوندو چارو کي پر لازمي همغږۍ ټینګار وکړ. ښاغلي سعید وویل، چي د دواړو ریاستونو تر منځ همغږي د خدمتونو په وړاندي کولو او د اغېزمنو پلانونو په ترتیب او پلي کولو کي مهم رول لري. همدا شان په دې ناسته کي په هیواد کي د سوداګرۍ د ودي او د مالیاتو د راټولېدو په موخه د سوداګرو ستونزو ته پر خپل وخت د رسېدو او دوی ته د اسانتیاوو په رامنځته کولو، د داسي طرحو په جوړولو، چي د دواړو ریاستونو عواید اغېزمن نه کړي، د دواړو ریاستونو له لوري د خامو موادو د راوړونکو فابریکو د چارو پر څارنه او کنټرول، په اصولي ډول د سوداګریزو شرکتونو د پخوانیو باقیاتو په راټولېدو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو بحث، خبري او په اړه ئې لازمي پرېکړي وسوې. همدا رنګه په دې ناسته کي پرېکړه وسوه، چي په میاشتني ډول دي د ګمرکونو او عوایدو لویو ریاستونو او په ولایتونو کي دي د ګمرکونو او مستوفیتونو تر منځ د همغږۍ دا ډول ناستي ترسره سي.





**د دولتي املاکو لوی ریاست رهبري پلاوي د هیواد شمالي ولایتونو ته سفر وکړ**

م ۲




**د مرکزي زون عوایدو ریاست او مالیه ورکوونکو د خدمتونو ریاست د کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرام پیل سو**

م ۲




**د مالیې وزارت نویو ګومارل سوو کارکوونکو ته د کمپیوټر دوه میاشتنی روزنیز کورس جوړ سو**

م ۲




**د صلاح الدین ایوبي سوداګریز مارکېټ د جوړولو پروژې د افرګشایي ناسته وسوه**

م ۲



**تجزیه و تحلیل عملکرد صادرات و تجارت محصولات زراعتی افغانستان با کشور های منطقه و جهان**

م ۳




**د لاهور د سوداګرۍ او صنعت خوني د پاک ـ افغان سوداګرۍ ته د ودي ورکولو پر اړتیا ټینګار وکړ**

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

## د نیمروز او فراه په ولایتونو کې یوه اندازه قاچاقي توکي ونیول سول



د نیمروز او فراه ولایتونو د گمرکونو د گرځنده څارني کارکوونکو د یادو ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې یوه اندازه قاچاقي توکي کشف او نیولي دي.
په نیول سوو توکو کې (۱۸۲۰) کیلو گرامه پاکستاني انساني طبي درمل، (۲۹۷۶۰) پاکټه نشه یي درمل، (۶۰۵) کیلو گرامه رُب، (۲۳) بستې لوبیا، (۳۳۶) کیلو گرامه پلاستیک او (۵۴۳) کیلو گرامه چاکلېټ شامل دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې هیواد ته راوړي.
یاد نیول سوي توکي او عاملین ئې د نورو څېړنو او اجراآتو لپاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.
د یادوني وړ ده، چې اوسمهال د هیواد په ټولو لویو لارو کې د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني ټیمونه فعال دي او چاته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي صادر او یا وارد کړي.

## د عوایدو لوی ریاست رهبری د ټولو ولایتونو له مستوفیانو سره انلاین ناسته وکړه



د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال مولوي منصورالحق ذاکر، د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال حافظ خلیل احمد او د ولایتي عوایدو د پراختیا او همږغی ریاست رئیس مولوي عبدالمجید (نجیب الله) د دغه ریاست د آمرینو په حضور کې د هیواد د (۳۴) ولایتونو له مستوفیانو سره انلاین ناسته او خبري وکړې.
په دغه انلاین ناسته کې، چې د عوایدو او گمرکونو معینیت د غونډو په تالار کې وسوه، د هیواد د مستوفیتونو د کیفیت په ښه کېدو، د رڼو ملي عوایدو پر راټولولو، د کارونو د توحید په موخه هره اوونی له ټولو اړوندو ادارو سره د همغږی ناستي په ترسره کولو، د چارو د لا ښه پرمختگ او د خنډ او ځنډ د له منځه وړلو په موخه د دفترونو په ښه سمبالولو او یو لړ نورو اړینو مسایلو باندي بحث او د نظرونو تبادله وسوه.
د عوایدو لوی ریاست رهبری په دغه ناسته کې د زیارکښه او نظام ته د ژمنو کارکوونکو په تړاو وویل، چې هر هغه څوك، چې د نظام د پایښت لپاره په ربښتینولی کار کوي، دوی ته به ځانگړې پاملرنه کېږي.
د یادوني وړ ده، چې مولوي منصورالحق ذاکر د عوایدو لوی ریاست د حمایوي مرستیال او مولوي عبدالمجید «نجیب الله» د ولایتي عوایدو د پراختیا او همږغی د رئیس په توگه مخکي معرفي سوي ول، په دې ناسته کې د غونډې گډونوالو ته ور وپېژندل سول.

## د دولتي املاکو لوی ریاست رهبري پلاوي د هیواد شمالي ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزارت اړوند ولایتي املاکو څخه د ښې گټې اخیستني، پر دغه املاکو گټوري پانگوني ته د ښې زمینې برابرولو او د کاري فرصتونو د رامنځته کېدلو په موخه د دولتي املاکو د لوي رئیس محمد هاشم هاشمي په مشری مل پلاوي د هیواد شمالي ولایتونو ته رسمي سفر وکړ او د یو شمېر ولایتونو د مستوفیتونو له مسؤلینو سره ئې وکتل.
د دولتي املاکو لوی ریاست رهبری د دغه سفر په لړ کې د بلخ، فاریاب، سمنگان او جوزجان ولایتونو د مستوفیتونو له مسؤلینو سره وکتل او همدا راز ئې په یادو ولایتونو کې د مالیې وزارت اړوند املاکو څخه لېدنه وکړه؛ ترڅو پر دغه املاکو باندي په ملي کچه گټوري پانگوني او په قرارداد ورکولو ته ښه زمینه برابره سي.



د یادوني وړ ده، چې د دغه سفر په پایله کې به، په یادو ولایتونو کې د یو شمېر غصب سوو جایدادونو تثبیت، بیرته راگرځولو او په گټوره توگه گټې اخیستني ته ښه زمینه برابره سي.

## د مرکزي زون عوایدو ریاست او مالیه ورکوونکو د خدمتونو ریاست د کارکوونکو لپاره روزنیز پروگرام پیل سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست اړوند د مرکزي زون عوایدو ریاست او مالیه ورکوونکو د خدمتونو ریاست کارکوونکو لپاره د گمرکونو او عوایدو په ملي اکاډمی کې روزنیز پروگرام پیل سو.
د دې پروگرام په پرانیستنه کې د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال حافظ خلیل احمد، د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسی ریاست رئیس مولوي نداء محمد صدیقي، د حقوقي خدمتونو او پالیسی ریاست د اسنادو تهیې آمر حافظ سید احمد هائد او د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر حبیب الله خبیب حضور درلود.
د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسی رئیس مولوي نداء محمد صدیقي د پروگرام گډونوالو ته وویل، چې دغه ډول پروگرامونه ستاسو د وړتیا لوړولو لپاره چمتو کېږي؛ ترڅو تاسو د دې جوگه سئ، چې په مسلکي توگه خدمتونه وکړئ او د کار په مخ کې پراته خنډونه له منځه یوسئ او موږ په راتلونکي کې پلان لرو، چې اوږد مهاله روزنیز پروگرامونه هم چمتو کړو. نوموړي وویل، چې دغه زده کړه ستاسو مسؤلیت دئ، چې باید په ایمانداری ئې ترسره کړئ.
د یادوني وړ ده، چې په دې دوه اوونیز پروگرام کې به (۱۰۰) تنه کارکوونکي گډون وکړي او د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو او محاسباتو په برخه کې به روزنه ترلاسه کړي.



## د مالیې وزارت نویو گومارل سوو کارکوونکو ته د کمپیوټر دوه میاشتنی روزنیز کورس جوړ سو

د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د مرکز نویو گومارل سوو کارکوونکو ته د کمپیوټر دوه میاشتنی روزنیز کورس جوړ کړ.
د دغه پروگرام په پرانیستغونډه کې، چې د دغه وزارت په خیبرهال کې جوړ سوې وه، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د معلوماتي ټکنالوژی رئیس عمران احمد فرحان او یو شمېر نورو مسؤلینو گډون کړی وو.
د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر د غونډې گډونوالو ته په خطاب کې وویل، خوښ یم، چې ستاسي په څېر ځوانان په دې نظام کې حضور لري، د دې نظام د پیاوړتیا او د شهیدانو د پاتي ارمانونو د پوره کولو لپاره هیڅ ډول هڅې مو ونه سپموئ او لکه څنگه مو، چې د جگړې په ډگر کې د دغه اسلامي نظام دښمنان مات کړل، د مسلکي پوهې په ترلاسه کولو او د خپل ظرفیت او وړتیا په لوړولو سره په اقتصادي، فرهنگي، اخلاقي او د ټکنالوژی په ډگر کې هم پوره هڅې وکړئ. دا نظام د لا پیاوړتیا او راتلونکي نسل ته د یوې الگو په توگه اقتصادي او فرهنگي کار ته اړتیا لري.
د معلوماتي ټکنالوژی رئیس عمران احمد فرحان په خپلو خبرو کې وویل، چې دغه روزنیز پروگرامونه ستاسو د پوهي د کچې د لوړولو او د کاري وړتیا لوړولو لپاره یو ښه فرصت دئ؛ ترڅو په خپله کاري برخه کې اغېزمن تمام سئ؛ نو له روزنیزو پروگرامونو څخه پوره گټه پورته کړئ او هغه څه چې په نظري بڼه زده کوئ په عمل کې ئې هم پلي کړئ.
د یادوني وړ ده، چې په دغه دوه میاشتني پروگرام کې گډونوالو ته د ورډ او اېکسل پروگرامونه تدریسېږي.



## د صلاح الدین ایوبي سوداگریز مارکېټ د جوړولو پروژې د افرگشایي ناسته وسوه

د مالیې وزارت د املاکو لوی ریاست د صلاح الدین ایوبي سوداگریز مارکېټ د جوړولو پروژې د افرگشایي ناسته، چې د ننگرهار ولایت جلال آباد ښار زاړه گمرك ته څېرمه پروت دئ، د چارو اداري او کابل ښاروالی او یو شمېر داوطلبانو په حضور کې د مالیې وزارت په خیبر سالون کې ترسره کړه.
دغه ناسته، چې د قرآن کریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل سوه، د دولتي املاکو لوی ریاست د مرکزي املاکو رئیس مولوي عتیق الله کریمي د ناستي گډونوالو ته د ناستي د روڼتیا په باب داډ ورکړ وئې ویل، دا د ویاړ ځای دئ، چې له تاسو مسلمانو ورونو سره په یوه ازاده فضا کي ناست او د افغانستان د ابادی په پروسه کي گډون کوم. نوموړي، زیاته کړه، چې د دې شرکت گټونکی باید خپلي چاري په غور ترسره کړي.
نوموړي، گډونوالو ته روښانه کړه، چې په بېلابېلو برخو کي تش دولتي جایدادونه شتون لري، چې په راتلونکي کي به د پانگوني او مارکېټونو او یا نورو ودانیو د جوړولو لپاره داوطلبی ته وړاندي سي. ټول شرکتونه کولای سي په دې داوطلبیو کې گډون وکړي او د هیواد د پانگوني ترڅنگ د هیواد په ابادی او اقتصادي وده کي ونډه واخلي او وکولای سي د هیواد ځوانانو ته د کار زمینه هم برابره کړي.



د یادوني وړ ده، چې د دې پروژې د داوطلبو شرکتونو طرحه د اقتصادي اغېزمنتوب په موخه د تحلیل کمېټې ته تللې او له هر اړخیزي ارزوني وروسته به هغه شرکت، چې طرحه ئې په شرطپاڼه کې د درج سوو معیارونو او اصولو سره سمه وي گټونکی اعلان سي.

SHTAMANI
اوونیزه

# تجزیه و تحلیل عملکرد صادرات و تجارت محصولات زراعتی افغانستان با کشور های منطقه و جهان

دوکتور محمد اکبرنادرپور
آمر ارتباطات استراتیژیک با تمویل کنندگان، وزارت مالیه

افغانستان محور اصلی تولید محصولات زراعتی و سرزمین کالاهای تجارتی بوده، این کشور توانسته است کالای های با ارزش تولیدی خویش را با جهان در عرصه تجارت بین المللی که یکی از کشور های صادر کنندۀ محصولات زراعتی و وارد کنندۀ انواع محصولات زراعتی، صنعتی و خدماتی می باشد، نقش ارزشمند را در تجارت بین المللی، در رژیم های قبل و بعد از آن به هدف اصلی تأمین روابط با جهان، نظر با شاخص صادرات و واردات در عرصۀ تجارت بین المللی به تجارت (واردات و صادرات) کالا ها و خدمات کشور با سایر کشور های جهان گفته شده است تأمین نماید. نظر به تجزیه و تحلیل که در بخش صادرات و واردات محصولات زراعتی افغانستان صورت گرفته است، نشان دهندۀ فیصدی افزایش رشد سالانه صادرات در سال (۲۰۱۸) به ارزش (۷۰۰) میلیون دالر بوده، که رقم بلند را در بخش صادرات محصولات زراعتی به خود اختصاص داده است. در آن زمان توسعۀ صادرات محصولات زراعتی، خود نشان دهندۀ فرصت های شغلی و در آمد فصلی برای تولید کنندگان محصولات زراعتی به شمار می آمد. بیشترین ارقام صادراتی افغانستان را با جهان و



کشور های منطقوی، تجارت محصولات زراعتی تأمین نموده بود، و از این بابت دهاقین کشور در آمد مناسب را بدست می آوردند و نزدیک به (۸۰) فیصد مردم افغانستان و باشندگان این کشور وابسته به زراعت بوده و محصولات زراعتی، تقریباً (۲۵) فیصد تولیدات داخلی کشور را در عرصه تولید ونقش آفرینی اشتغال زایی تشکیل می دهد. در آن زمان نقش حمایوی سکتور خصوصی و تقویه تجارت محصولات زراعتی از طریق کارگو ها، صادرات از راه هوا به کشور های هندوستان، قزاقستان و امارت متحدۀ عربی، به توسعۀ رشد صادرات محصولات زراعتی افغانستان کمک نمود، این عمل باعث رشد محصولات تجارتی، بازاریابی و تسخیر بازار های دبی، دهلی نو، ممبیی و آلماتا که محصولات ویژۀ زراعتی افغانستان بود، بازارهای مختلف کشور های منطقه و جهان رابا خود جلب و جذب نموده است.

واردات محصولات زراعتی که از جملۀ مواد غذایی افغانستان به حساب می آید، در آن زمان تقریباً (۱۴) فیصد کل واردات کشور را تشکیل می داد، شرکای اصلی در بخش تجارت بین المللی محصولات زراعتی با تفکیک دقیق و واردات محصولات زراعتی می توان کشور های روسیه، پاکستان، ایران، ازبکستان و چین نامبرد، اما باید توجه داشت، آمار ر سمی تجارت محصولا ت زراعتی، مواد غذایی از منابع معتبر مانند بانک جهانی و سازمان خوراکی جهانی، کاملاً به استناد بوده و از گزارش های تجارتی و اقتصادی استفاده شده است. در آن زمان افغانستان رشد بی سابقۀ را در حصۀ صادرات محصولات زراعتی دارا بوده است. واردات



افغانستان از بابت محصولات زراعتی در سال(۲۰۱۸) به (۱.۷) فیصد کاهش یافته بود که معادل ارزش وارداتی آن به (۱۳۳) میلیون دالر تخمین گردیده بود. تجزیه و تحلیل ما نشان می دهد که صادرات افغانستان نسبت به واردات آن، در سال (۲۰۱۸) به ارزش (٥٦٧) میلیون دالر افزایش را داشته و رقم رشد آن به (۱۲.۳) فیصد می رسد. میزان حجم محصولات صادراتی زراعتی و کاهش میزان محصولات مواد غذایی، بیشتر بر تقویت تولیدات محصولات زراعتی افغانستان تاکید داشته و توانسته بود میزان صادرات کالای های زراعتی را افزایش و زمینۀ عمکرد صادرات محصولات زراعتی را درآن دوره تأمین و تحکیم روابط با بازار های منطقوی و بازارهای جهانی را به طور میانه در مقایسه با سالهای اخر به هدف اصلی تجارت کالای زراعتی رشد و افزایش تجارت افغانستان را با کشور های وارد کنند گان محصولات زراعتی نشان داده است. افزایش محصولات صادراتی افغانستان در دوره قبل بر عملکرد صادرات محصول اولیه افغانستان مثبت بوده است. و در دوره زمانی تجارت محصولات کشور تاثیرات مثبت را در عرصۀ تجارت بین المللی با حمایۀ موافقتنامه های تجارتی، حمایت سازمان تجارت جهانی، موافقتنامه های تجارتی محصولات زراعتی با کشور های منطقوی، جهت دستیابی به بازار های جهانی و تأمین روابط تجارتی، عملکرد صادرات محصولات زراعتی را نظر به وضعیت تجارتی در مقایسه به زمان های نه چندان دور، توسعه و افزایش تجارت مثبت را نشان می دهد.

وضعیت فعلی تجارت محصولات زراعتی افغانستان به حمایت امارت اسلامی افغانستان ضرورت دارد، تجارت محصولات زراعتی باید تقویت یابد، اعتبار تجارت کالاهای صادراتی به چندین برابر افزایش یابد، صادر کنندگان حمایت مالی گردند، چالش های بوجود آمده، در تجارت بین المللی برطرف گردد، اشتغال زایی به وجود آید، تشویق صادرات و کاهش واردات، تقویت زیر ساخت های اقتصادی برای حمایت از تولیدات محصولات زراعتی، یک بخش مهم و حیاتی اقتصاد افغانستان به حساب می آید، حمایت و تقویت گردد. تا از فقر و تنگ دستی مردم رنج کشیده افغانستان به سرمی برند رهای یابند، حمایت های مالی در سکتور زراعت، می تواند تغییرا ت مثبت را در زندگی مردم افغانستان بوجود آورد، به خصوصی مناطق روستای که از فقر و تنگ دستی رنج می برند بر طرف خواهند شد. حمایت تجارت محصولات زراعتی می تواند تاثیرات بسیار زیادی را بر اقتصاد خانواده های زراعت پیشه گان به طور متناسبی بر زندگی شان بوجود آورد، تا زمینه آسیب پذیری تولید کنند گان محصولات زراعتی بر طرف گردد.


# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء) تخلیه و بارگیری اموال در گمرک محصولی و سرحدی کندهار (دارای نمبر تشخیصیه (۰۱٦-NCB/NCS/۱٤۰۳/MOF) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش یا میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱٦/ثور/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲٦/ثور/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۲٥۰,۰۰۰ (دو صد و پنجاه هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

### اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء) آپدیت ماشین های لابراتوار گمرکات (دارای نمبر تشخیصیه (۰۱٥-NCB/NCS/۱٤۰۳/MOF) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش یا میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۷/ثور/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲٦/ ثور/۱٤۰۳ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۳۰۰,۰۰۰ (سه صد هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

### اعلان داوطلبی ٥ جایداد دولتی مربوط ناحیه اول و سوم شاروالی کابل

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه به تعداد (٥) جایداد ذیل را از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان می سپارد.
۱- یک باب رستورانت ایبک شماره A۰۱ به مساحت ۲۸۲,۰۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۳ به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦٥۰۰۰) افغانی.
۲- یک باب دوکان نمبر A۰۲ به مساحت ٤٦,۲ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۳ به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۳۰۰۰) افغانی.
۳- یک باب دوکان نمبرA۰۳ به مساحت ٤٦,۲ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۳ به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۳۰۰۰) افغانی.
۴- یک باب دوکان نمبرA۰٤ به مساحت ٤٦,۲ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۳ به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۳۰۰۰) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦-۳٤,٥۱٥۲۷۲
٥- یک باب غرفه نمبر ۲۸ به مساحت ٤,۲ مترمربع واقع منزل اول تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٥۰۰۰۰) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر):٦۹,۱۹۳۹۳-۳٤,٥۱۸۰٦
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق می باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ (۳/ ثور/ ۱٤۰۳ الی ۱٦/ ثور/ ۱٤۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.
شماره تماس (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)
مجلس داوطلبی: ۱۷/ ثور/ ۱٤۰۳ به ساعت(۱:۳۰) بعد از ظهر میباشد.

### د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند د (۱۰) بابه دوکانونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند منډيي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ (۱۰) بابه دوکانونه په جلاجلا ډول د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وړاندي کړي.
۱ - د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳۲ نمبر دوکان، چي ۹،٥۰ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۴٦۳.۱) افغانۍ ده.
۲ . د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳۳ نمبر دوکان، چي ۸،۷۴ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۲۴۴۹) افغانۍ ده.
۳ . د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳۴ نمبر دوکان، چي ۸،۷۴ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۱۸۳.۸) افغانۍ ده.
٤ . د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳٥ نمبر دوکان، چي ۸،۷۴ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۱۸۳.۸) افغانۍ ده.
٥ . د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳٦ نمبر دوکان، چي ۹،۸۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۴٦۳،۱) افغانۍ ده.
٦ . د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳۷ نمبر دوکان، چي ۹،۸۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۴٦۳،۱) افغانۍ ده.
۷ . د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳۸ نمبر دوکان، چي ۱۱،۹٦ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۱۸۲۱) افغانۍ ده.
۸ . د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۳۹ نمبر دوکان، چي ۹متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۹۰۸،۳) افغانۍ ده.
۹ . د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۴۰ م نمبر دوکان، چي ۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۹۰۸،۳) افغانۍ ده.
۱۰. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۴۱ نمبر دوکان، چي ۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۹۰۸،۳) افغانۍ ده.
کوردینات (جي. پي. اس نمبر): ٦۹,۱۷۷۲٤-۳٤,٥۱۷٤۱
هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورتني ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د (ثور/۰۴ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر (ثور/۱۴۰۳/۲۴) پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه دي ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (٥) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ مجلس: د (ثور/۲٥ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۹ بجې او ۳۰ دقیقې ترسره کېږي.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ -۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)







# د لاهور د سوداګرۍ او صنعت خونې د پاک ـ افغان سوداګرۍ ته د ودې ورکولو پر اړتیا ټینګار وکړ




د بېزنیس ریکارډر ـ BUSINESS RECORDER په نوم یوې پاکستانۍ رسنۍ د افغانستان او پاکستان د سوداګرۍ په هکله راپور خپور کړی دئ او وایي، چې د لاهور د سوداګرۍ او صنایعو خونې (LCCI) رئیس کاشف انور ویلي دي، چې د پاکستان او افغانستان تر منځ د تاریخي او ټولنیزو ـ اقتصادي اړیکو باوجود د سوداګرۍ حجم د امکان تر کچې ډېر نه معلومېږي او وایي، چې د دوه اړخیزې سوداګرۍ د ودې له پاره باید ګډ او کوټلي ګامونه واخیستل سي.

انور وایي، چې د افغان سوداګریز پلاوي سفر مهم دئ، ده خپل نظر داسې اظهار کړی دئ: «له ګاونډیو هیوادونو سره باید ښې سوداګریزې اړیکې ولرو، ځکه د ګاونډیانو حق لومړی دئ. د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګریزو پلاوو تبادله مهمه ده. د یوه بل د فرهنګ درک کول هم سوداګري زیاتوي.»

په دې راپور کې د پاکستان او افغانستان تر منځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ حجم (۵۲۲) میلیونه امریکایي ډالره یاد سوی دئ. راپور اثباتوي، چې که چېرې د دواړو هیوادونو ترمنځ بانکي چېنلونه جوړ سي؛ نو د سوداګرۍ حجم څو برابره زیاتېږي.

په متن کې ویل سوي دي، چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د درملو، غالۍ، وریجو، د موټرونو پرزو او په نورو برخو کې د سوداګرۍ د زیاتوالي امکان سته.

د افغان پلاوي مشر خان جان الکوزي بیا راپور ته داسې ویلي دي: «افغانان له پاکستان سره د سوداګرۍ د زیاتولو له پاره لېوال دي. دواړه هیوادونه اوس یو بل ته تر بل هر وخت ډېره اړتیا لري. په دې سیمه کې د اقتصادي فعالیتونو د ډېروالي احتمال سته. د دواړو هیوادونو تر منځ ٪(۷۰) سوداګري د لاهور له لارې کېږي.»

الکوزی زیاتوي، چې د افغانستان د صادراتو له پاره ټرانزیټي تجارت مهم دئ او وایي، چې اوسمهال له پاکستان څخه د افغانستان له لارې شاوخوا (۵۰۰،۰۰۰) مټریک ټنه تازه مېوه منځنۍ اسیا ته ځي. که دواړه ملکونه سره وصل سي؛ نو په دې سره به سویلي اسیا او منځنۍ اسیا هم وصل سي.

خان جان الکوزي د افغانستان د عبوري سوداګرۍ او د دې عبوري ملک پر ارزښت داسې خبرې وکړې: «افغانستان کولای سي، چې د پاکستان صادرات روسیې ته او له منځنۍ اسیا څخه خام مواد پاکستان ته انتقال کړي. افغانستان له وروستیو سیاسي بدلونونو او سولې وروسته اقتصادي ثبات لري. افغانستان خپل خصوصي سکټور ته وده ور کوي.»


د یادې رسنۍ متن دا خبره هم ذکر کړې ده، چې وایي د دواړو هیوادونو ترمنځ سیاسي بې ثباتي پر متقابل تجارت اغېز کوي. په دې خاطر د پاکستان مشترک بازار ایران ته راکښته سوی دئ او د افغانستان او ایران تر منځ دوه اړخیزه سوداګري له (۳) میلیارډه امریکایي ډالرو څخه اوښتې ده. راپور زیاتوي، چې وایي پلاوي له پاکستاني پانګوالو وغوښتل، چې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

# MoF, DAB Convene for Reconnecting 'Financial Systems'




In order to transparently collect national revenue, create more conveniences for taxpayers, and ensure good and timely execution of all necessary expenses and salaries; Under the leadership of Deputy Minister of Policy of MoF, Engineer Sultan Mohammad Zubair, and with the participation of the officials of MoF and the Da Afghanistan Bank (DAB), a meeting was held to reconnect the financial systems of both IEA bodies. In this joint meeting, MoF has discussed and decided to connect the interbank payment system and the system of DAB (APS) with good quality and strong support to AFMIS, SIGTAS and ASYCUDA systems; After solving a series of technical issues, it will be connected to the mentioned systems, with which necessary facilities will be provided in the relevant fields nationally.

# Leadership of Directorate of State-owned Real Estate Visits Northern Provinces Amid Official Trip



The delegation led by the General Director of State-owned Real Estate, Mohammad Hashem Hashemi has made an official visit to the northern provinces of the country and met with the officials of miscellaneous provincial Mustofiyats. The aim of official journey was due to gaining good profits from the provincial real estates of MoF, in order to provide best opportunity for profitable investment on these real estates and to provide work opportunities. The leadership of the Directorate of the State-owned Real Estate met with the officials of Mustofiyats of Balkh, Faryab, Samangan and Jawzjan provinces amid the trip and also visited the properties related to the MoF in the said provinces, with the aim to provide a good basis for making profitable investments and contracts on the real estate nationally. It is merely worth noting that as a result of this trip, there will be best opportunity to assess property usurpation and restore a number of confiscated properties in the mentioned provinces.

# Nimroz, Farah Customs Report of Seizing Contrabands



The mobile surveillance staff of the customs of 'Nimroz and Farah' provinces has detected and seized a quantity of contrabands in different areas of the said provinces. The seized items include 1,820kg of Pakistani medicine, 29,760 packets of drugs, 605kg of tomato paste, 23 bags of beans, 336kg of plastic and 543kg of chocolate, which smugglers wanted to bring to Afghanistan secretly. The mentioned amount of contrabands and the perpetrators have been handed over to the relevant customs for further investigations and proceedings. Notably, the mobile surveillance teams of the General Directorate of Customs of MoF are active on all highways of the country and they do not allow anyone to export or import prohibited items or contrabands.


د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.